**د کندوز پر غمیزه د مزدورو چارواکو غبرگون!**



د کندز د دشت ارچي ولسوالۍ پر هاشمیه دارالعلوم د دوشنبې په هوایي بریدونو کې سلگونو عامو خلکو ته مرگژوبله واوښته. د دشت ارچي ولسوال نصرالدین سعدي له قوله په دې خونړۍ پېښه کې تر ۱۰۰ ډېر کسان وژل شوي او شاوخوا ۲۰۰ نور ټپیان شوي دي. ښایي واقعي شمېرې تر دې هم لوړې وي، ځکه برید د دستاربندۍ پر مراسمو او د خلکو پر گڼه گوڼه شوی. د سیمي اوسېدونکي هم ادعا کوي چې په دغه برید کې لسگونه عام خلک، دیني عالمان، د مدرسي فارغان او ماشومان چې دغو مراسمو ته ورغلي وو، مړه او ټپیان شوي دي. د ملکي وگړو د خوندیتوب او عدالت غوښتنې ډله (سيپيايجي) هم په دې پېښه کې د عامو خلکو مرگژوبله تاییدوي او وایي، چې د دغې ډلې لومړنۍ څېړنې ښیي، چې په برید کې ۵۰ ملکي کسان وژل شوي او نږدې ٦۰ نور ټپیان شوي دي. دغه راز افغانستان کې د ملگرو ملتونو د استازي دفتر یوناما وایي چې د کندوز د دشت ارچې په بمبار کې د ملکي تلفاتو په اړه "راپورونه خواشینوونکي" دي.

خو یوازې ارگ او ځینې نور دولتي چارواکي غواړي چې خپل دغه جنایت ته د ختو پوزه ورکېږدي او لا هم د دغه ستر جنایت او وحشت د توجیه کولو هڅه کوي. په داسې حال کې چې د ملگرو ملتونو، د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسیون او خپله د افغان حکومت یو پلاوی په سیمه کې د عامه خلکو د مرگژوبلې په اړه تحقیقات کوي. شواهد

له ورایه ښیي چې په کندوز کې ستر بشري ناورین رامنځته شوی. خو د دفاع وزارت مرستیال ویاند محمد رادمنش رسنیو ته وویل چې دا برید د افغان هوایي ځواکونو له خوا د ترهګرو پر هغه قرارګاه شوی، چې ترهګریز فعالیتونه پکې ترسره کېدل. ارګ هم په خورا بې شرمۍ او سپین سترګۍ د دفاع وزارت خبره تائید کړه، وایي چې دلته طالب مشران راټول شوي وو، آن د کوټې شورا پلاوی او نور مشران یې راغلي وو، چې بمباري پرې وشوه!

دوی د خپلې توجیه لپاره ځینې غیر منطقي او غیر معقول دلایل وړاندې کوي، چې دلته د طالبانو غونډه وه، د دوی مشران او حتی د کوټې هیئت ګډون درلود، ملکي کسان نه دي وژل شوي، که وژل شوي هم وي، د طالبانو په ځوابي ډزو کې وژل شوي.

که فرض کړو چې دا د طالبانو غونډه وه او کوټې هیئت هم دلته و، لومړی خو دا ډېره غیر منطقي خبره ده، چې د طالبانو هیئت دې په داسې ځای کې دومره مهمه غونډه وکړي. که یې وهم کړي، ماشومان او عام خلک هلته څه کوي، څکه په وژل شوو کې خو زیاته برخه ماشومان دي؟ ځینې عیني شاهدان وایي چې هوایي ځواکونو لومړی هغه ځای وویشت، چې هلته ماشومان ناست وو. خو دوی ادعا کوي، چې عام خلک نه دي وژل شوي، که وژل شوي هم وي، د طالبانو په ځوابي ډزو کې وژل شوي. دا ادعا هم غیر منطقي ده، څکه ټولو ته معلومه ده، چې بریدونو درنه مرګژوبله اړولې. بله دا چې هلته خو جګړه نه وه، چې خلک د طالبانو په ځوابي ډزو کې مړه شي، خو په بمبار کې مړه شوي.

که د دوی دا بې بنسټه دلایل وهم منل شي، ایا پر جومات او مقدساتو برید د توجیه وړ دی!؟ که د دوی دا دروغجنې ادعاوې ربښتیا هم وي، ایا پر جومات برید له شرعي نظره توجیه کېدی شي یا یې باید د توجیه هڅه وشي!؟ جومات د مسلمانانو له ارزښتونو او مقدساتو څخه دی، که دغو غربپالو او په غربي روحیه روزل شوو ځواکونو او چارواکو ته اسلامي مقدساتو او ارزښتونو لږ هم ارزښت درلودی، نو په دغسې ځایونو به یې لومړی برید نه کاوه، اوس یې چې دا ستر جنایت ترسره کړی، نو توجیه کاوه به یې نه او خپلو ناروا کړنو ته به یې په دومره بې شرمۍ او سپین سترګۍ مشروعیت نه ورکاوه. خو له دې څخه په ډاګه کېږي، چې دوی هېڅ اسلامي ارزښتونه نه پېژني او نه هم کوم اهمیت ورته لري. که دوی لږ حیا هم درلودی، نو باید دا برید یې غندلی وای او د مجرمینو د ستاینې پر ځای یې هغوی ته سزا ورکړې وای. خو دا او دې ورته په سلګونو نورې پېښې ثابتوي، چې دوی ته خپل مظلوم ولس، مقدسات او عام خلک اصلاً اهمیت نه لري، څکه خو خواخوږي او همدردي نه ورسره لري او تل یې په دا ډول غمیزو او ناورینونو د دوی لمانځنه کړې. دوی ته یوازې د خپل بادار غلامي او د هغه رضایت لومړیتوب لري.

د امریکایي اشغال له پیله بیا تر اوسه د دغه مظلوم ولس پر سرنوشت همداسې لوبې کېږي او دا د خاینو چارواکو د امنیتي او ستراتیژیکو تړونونو پایله ده، چې له امریکا سره یې لاسلیک کړي؛ څکه د دوی حضور او اشغال یې دلته

رسمي کړ. تر کله چې دلته اشغال او استعمار وي، د دغه مظلوم ولس شرنوشت به امریکا ټاکي او د پخوا په څېر به یې تل همداسې د غم په ټغر کېنوي.

له دا ډول بریدونو څخه موږ ته د غربي بشري او د ماشوم حقونو تش په نامه داعیې په ډاګه کېږي، چې دوی ته د اسلامي امت د ماشومانو، سپین ږیرو او ښځو وینه څومره ارزښت لري؟ نو که د افغانستان مظلوم او مسلمان ولس د امریکایي اشغال او استعمار او د دوی د لاسپوڅو او مزدورانو پر خیانتونو او ظلمونو چوپه خوله وي او د د راپرځولو لپاره یې لاس په کار نه شي، صلیبي اشغالګر او مزدوران به یې په دا ډول غمیزو هرکلی کوي.

دا ظالم او خاین چارواکي د خپلو بادرانو د رضایت او د دې لپاره چې څو ورځې امریکا ته په اخلاص غلامي وکړي او پروژې یې عملي کړي، پر خپل ولس له هېڅ ډول ظلم څخه مخ نه اړوي او په ډېره بې‌شرمۍ یې د توجیه کولو هڅه هم کوي. په داسې حال کې چې په اسلامي دولت (اسلامي خلافت) کې خلیفه د امت لپاره د یو واقعي غمخور حیثیت لري، چې د امت هر ډول ستونزو، غمخوارۍ، ساتنې، دفاع، حقونو او نورو ته پام کوي او دا یو خورا درونד مسئولیت ګڼي، چې الله سبحانه وتعالی ته به یې حساب ورکوي. دغه راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث له مخې امام یا خلیفه هغه ډال دی، چې مسلمانان یې تر شا جګړه کوي او د سختۍ پر وخت هغه ته پنا وروړي:

**"إنما الإمام جنة يقاتل من ورائه و يتقى به"**

له شک پرته امام (خلیفه) هغه ډال دی، چې [امت] یې تر شا جګړه او له ځانه ساتنه کوي.

**خالد ایثار**